ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES
FOR AFGHAN ARRIVALS
خدمات حقوق مهاجرت برای افغان‌ها

# باید څه تمه ولرئ

# د قضيې ثبتول

## دحقوقي وضعیت په موخه د ایلسا - (ILSAA) له لارې

د مشورې او تاسو ته د موجوده امکاناتو په اړه د نورو معلوماتو په موخه دغه بریښنالیک ته (ILSAAinfo@icf.com) ایمیل واستوئ.

**لاربښونه:** که ژباړونکي ته اړتیا لرئ، د ژباړې خدمات شته، او یا هم کولی شئ خپل ژباړونکی د ځان سره راولئ.

د نوي راغلي افغانانو لپاره د مهاجرت د حقوقي خدماتو د پروژې — (Immigration Legal Services for Afghan Arrivals — ILSAA) د حقوقي ټیم سره ووینئ.

**لاربښونه:** له ناستي یا ملاقات څخه وروسته، وکیل به تاسو ته دا مشوره درکړئ چې کوم اسناد د غوښتنلیک د ثبتولو لپاره اړین دي.

اسناد راغونډ کړئ، او د خپلې دوسیې یا قضیې د دول په اړه د خپل وکیل سره خبرې وکړئ.

د ټولو اړینو معلوماتو د تر لاسه کولو وروسته، ستاسو وکیل به د خلورو اونیو په ترڅ کې ستاسو غوښتنلیک ثبت کړي.

**لاربښونه:** که چېرې ستاسو پته یا د تلیفون شمېره بدله شوې وي نو خپل وکیل ته خبر ورکړئ. هغه لاربښونې چې څنګه کولای شئ خپل ادرس یا پته د متحده ایالاتو د اتباعو او کډوالو دفتر-(USCIS)سره بدل کړئ، **دلته** موندلای شئ.

خپل د غوښتنلیک حالت وڅارئ، او د خپل حقوقي ټیم سره په اړیکه کې واوسئ.

**لاربښونه:** د دې تضمین نه شته چې د متحده ایالاتو حکومت به څومره وخت کې ستاسو غوښتنلیک په اړه تصمیم ونیسي. ستاسو حقوقي ټیم به ژر تر ژره تاسو ته خبر درکړي.

د حقوقي وضعیت د تائید یا لغوه کیدو په اړه پریکړه تر لاسه کړئ، او د خپل وکیل سره د راتلونکو اقداماتو په اړه خبرې وکړئ.



**یادښت:** که تاسو وار له مخه وکیل لرئ، تاسو ممکن د ایلسا — (ILSAA) مرستې ته اړتیا و نلرئ. که تاسو غواړئ خپل وکیل بدل کړئ، د خپل اوسني وکیل سره اړیکه ونیسئ تر څو هغه ستاسو سره په دې اړه خبرې وکړي چې ستاسو دوسیه و ایلسا — (ILSAA) ته څه ډول راجع کړئ.

د دې سند محتوا یوازې د معلوماتو په موخه وړاندې کیږي او باید په هیڅ صورت د حقوقي مشورې په توګه و نه کارول شئ. د کډوالو او مهاجرت لپاره د متحده ایالاتو کمېټې -(USCRI) دفتر خپل مالي تمویل د سیالۍ له لارې د امریکا متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت د ماشومانو او کورنیو د ادارې څخه تر لاسه کړی دی. د قرار داد شمېره (#140D0423C0027). د افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدماتو پروژه یا ایلسا — (ILSAA) سل سلنه «۱۰۰٪» د امریکا متحده ایالاتو د دولت لخوا تمویل کیږي.

USCRI